ایس دی پی آئی
دَ پائیدارے ترقی دَ پالیسی انستیټیوټ

# خپله خاؤره

دھرتی
جلد4،شمارہ6،مئی۔ جون 2006ء
جلد 4، شماره 6، مئی - جون 2006ء

## بجټ د شمیر جادو ګري

مونږ ته د بجټ ضرورت ولې دے ماهرین وائي چې بجټ مونږ ته د خپلو اخراجاتو د خپل امدن مطابق منصوبه بندی کښې مدد راکوی دا د مستقبل نقشه وی چې د امدن او اخرجاتو په مینځ کښې د فرق نشا ند هې کوی-

هغه وخت تېر شو چې دغه خبره د پاکستان د بجټ په باب له صحیح وه هېر وخت نه دے شوے چې خلکو ته به د سالانه بجټ انتظار وُ- د دې په شا وجه دا وه چې په بجټ کښې به چې د مثال په توګه د تېلو یا بجلئ کوم قیمتونه مقرر کړې شول نو هغه به کم از کم یو کال پورې اکثر برقرار وُ- بیا انتظامی تبدیلئ راغلې او زمونږ حکومتونو د کال د بجټ نه علاوه کوچنی(منی) بجټونو جوړول شروع کړل-په کالیز بجټ کښې د ډېرو پیچیده مسلو حل کولو نه لاس راښکلے شو او دغه مسلې په کوچنی بجټ کښې حل کول شروع شول-

لږ وخت پس په دغه کښې هم تبدیلی راغله د بهر نه راغلی دانش او د واشنګټن اتفاق رائې د تسلسل په زرېعه حکومتونو کوششونه شروع کړل چې بجټ څومره ډېر "اولس دوسته وی"هومره به ښه وی اوس دوي ته د کوچنی بجټ ضرورت هم پاتے نه شو او ډېر په زهانت سره ریګولیټری اتهارټیز غوندې ادارې ایجاد کړی شوې= د مثال په توګه ائل اېنډ ګېس ریګولېټری اتمارټی» الیکټرک ریګولېټری اتهارټی چې زمونږ معاشی منتظمین چې کله هم غواړی د تېلو او بجلئ قېمتونه زیات کړی- هر پنځلس ورځې پس ددغه ضرورې څیزونو قیمتنوه زیاتولو مقصد شاید چې د خلکو د حوصلې امتحان اخستل او زیاتول وی=سرکاری دانس دا دے چې دغه دیکو ته مخامخ کېدل او مسلسل د بې یقینئ په کېفئت کښې اوسېدل به د پاکستان خلک نور هم سخت او مضبوط کړی-

ایس دی پی آئی
دَ پائیدارے ترقی دَ پالیسی انستیټیوټ
3- یو این بولیوارد ، ډپلومیټک انکلیو1 ، جی - 5 ، پوسټ بکس نمبر 2342 ، اسلام آباد ، پاکستان
فون : 76 - 2270674 / 2278134 - 051 ، فیکس : 2278135 - 051
ای میل : main@sdpi.org، ویب سائیټ : http:/www.sdpi.org/

دَ " خپله خاؤره " مقصد دَ ترقی دَ ورور ولئ، غیر سرکاری شعبو ، سرکاری ادارو او دَ دې سره سره اولس دَ خپلو تحقیقاتو او دَ پائیدارے ترقی په حواله دَ خپلو مبارزو نه خبرول دی ـ دَ دغه نه پر مخته دا دَ اهمو ملی اؤ بین الملی پیشرفتونو اګاهی هم ورکوی ـ

" خپله خاؤره" کښې بیان کړے شوے خیالات دَ لیکوالو خپل دی اؤ دَ پائیدارے ترقی دَ پالیسی انسټیټیوټ ( ایس ډی پی آئی ) په حیثیت دَ یو ادارے دَ دوی سره اتفاق کؤل ضروری نه دہ ـ

مدیر : احمد سلیم
معاون مدیر: سلیم شاہ کاکاخیل
پروډکشن : ضیاء الرحمٰن
: عقیل احمد

دَ پائیدارے ترقی دَ پالیسی انسټیټیوټ ( ایس ډی پی آئی ) خبرپاڼه "خپله خاؤره" هر دوه میاشتے پس شائع کیږی ـ

# بجټ

مونږ که په دغه حواله د 2006-2007 بجټ ته اوګورو نو څه حېران کن څيز ئې مخې ته نه دې راورې=ډېر تبصره نګار دے ته د اعداد وشمار د جادوګرې یوه ښه نمونه وائي چې څه حقیقي معنی نه لرې=زما په خیال کښې ددغه جادوګرئ او دهوکې نمونه په دغه بجټ کښې د 90 کالو عمر نه زیات سرکارې ملازمانو په پنشن کښې 20 فی صده اضافه کول دی څوک چې نن هم د بې پناه ګرانئ او غربت باوجود ژوندی دی؟ زما یقین نه شی چې د پاکستان د خزانې وزیر مملکت به ددغه زیدې ورکولو نه مخکښې د پاکستان د ابادئ متعلق اعداد و شمار باندې نظر اچولی وی- د 1998 د سر شمېرنې مطابق د پاکستان صرف 1.75 فیصده ابادی 75 کالو د عمر نه زیا ته ده= د دې نه مونږ ډېره په اسانه دې نتیجې ته رسو چې د 90 کالو عمر د خلکو تعداد به د 0.8. فیصده نه زیات نه وی- په دغه لږ شانته بوډاګانو کښې د پنشن حقدار هغه خلک جوړېدې شی کوم چې 30 کاله مخکښې ریټائر شوی وی-څومره خلک چې نن د پاکستان په سرکارې ملازمتونو کښې دی د هغې د شمېر نه مونږ په دې نتیجه رسو چې د ملک د ټولې ابادئ صرف 0.2 فیصده خلک به ددې شاندار 20 فیصده اضافې ته فائده واخستلی شی-

ددغه "غریب دوسته" بجټ اقدامات تش د پنشن په دغه اضافه نه ختمیږي-د 89 کالو نه کم عمره بوډاګانو په پنشن کښې 15 فیصده اضافه وکړې شوه او کوم خلک چې نن ملازمت کوی د هغوئ په تنخواګانو کښې ۱۵ فیصده اضافه وکړې شوه- دا اضافه د ټولو د پاره ده که هغه ملازم په هر ګرېډ کښې وی-

ډېره ښه خبره ده یقینا دا غریب دوسته فیصله ده ځکه چې ملازمینو ته څه فائده خو اورسېدله هغه که هر څومره کمه ده-د هر غریب دوسته اقدام اصلی امتحان د تقابلي اثراتو په بنا کیږي یعنی چې ددغه اقدام اثرات به په غریب طبقه د نسبتا خوشحاله طبقې په مقابله کښې څه او څنګه وی؟

حکومت د دالونو چینو په شان ته د روزمره استعمال په څیزنو سبسډی ورکولو باندې د ډېرې فراخدلئ مظاهره وکړه- په نورو لفظونو کښې په تمام پاکستان کښې تقریبا درې سوه یوټیلیټي سټورز به د پاکستان 16 کروړه خلکو ته دغه څیزونه په رعائیتي نرخونو ورکوی-کومو خلکو چې چینی په خپلو ملونو کښې ذخیره کړی هغې ته په حکومت سبسډی ورکوی- وائی په مینه او جنګ کښې هر څه جائز دی=دغه خبره نوره هم صحیح ثابته شی کله چې سیاستدانا ن د پیسې سره مینه شروع کړی-

هر څه چې وی خو زه دا سوچ کوم چې دغه رعائتونو د پاره به پیسې د کومه راځی؟ په نوره دنیا کښې حکومتونه د دې د پاره پیسې لګوی چې د غریب او امیر په مینځ کښې فرق کم شی ولې پاکستان کښې ددغه مقصد د پاره څوک پیسې نه لګوی=دلته په تنخواداره طبقې ټیکس ځکه لګولې شی چې د وزیراعظم سیکرټریټ د روزانه لس لکهه خرچ پوره کړی شی او د حکمرانه اشرافیئ د پاره بلټ پروف ګاډی واحستې شی-د تنخوا دار خلکو د ټیکس ورکولو توان دومره کم وی چې دا د لا محدوده حد پورې نه شی خورېدې چې په کومه باندې حکمرانه طبقه د خپلو خیالاتو مطابق ژوند تېر کړې شی-

د نجکارئ په زریعه حاصل کړې شوی رقم ددغه عیاشی بله زریعه جوړېدې شی- ولې تر ننه پورې مونږ څه خرچ کړې شوې دی؟ پاکستان سټیل ملز» پاکستان ټیلی کمیونیکېشن کراچی الیکټرک سپلائی کارپورېشن کوم چې د یو کال په دوران کښې خرڅ کړل شوی دی=ددې ټولو نه حکومت ته 22 بیلئن روپئ تره لاسه راتلو امکان ؤ ولې داسې او نه شول او نن د دغه ټولو په خرڅولو خلک ګوتې اوچتوی او حکومت ته وائی چې د کور قیمتي سامان دومره به ارزان قیمت ولې خرڅوی-

د سټیل ملز د نجکارئ په باب له د سپریم کورټ فیصله زمونږ تر وړاندې ده او ددغه خبرې ثبوت دې په دغه وجه د نجکارئ په زریعه دا غټ امدن حاصلولو تقع هم بے کاره ده- د ضرورت د څیزنو په رعائتي قیمنو ورکولو بله زریعه د بین الملی ادارو نه قرضې اخستل دی او دا اخری زریعه ده ولې د دې باوجود حکومت وائی چې مونږ په قرضونو خپل انحصار ختم کړې

# بجټ

حکومت د دالونو چینو په شان ته د روزمره استعمال په څیزنو سبسډی ورکولو باندې د ډېرې فراخدلۍ مظاهره وکړه- په نورو لفظونو کښې په تمام پاکستان کښې تقریبا درې سوه یوټیلیټي سټورز به د پاکستان 16 کروړه خلکو ته دغه څیزونه په رعائیتي نرخونو ورکوی-کومو خلکو چې چینی په خپلو ملونو کښې ذخیره کړی هغې ته په حکومت سبسډی ورکوی- وائی په مینه او جنګ کښې هر څه جائز دی=دغه خبره نوره هم صحیح ثابته شی کله چې سیاستدانا ن د پیسې سره مینه شروع کړی-

دې-علامی بېنک څه وخت وړاندې د منصوبه بندئ نه بغېر (د پالیسی او پالیسی سازئ د عمل) لبرلائزېشن جاری ساتلو د ترغیب ورکولو دپاره د 6.5 بېلئن ډالر قرضې اعلان کړې دی« نو دغه یو امکان موجود دی-حالانکه څه موده پس به مونږ د ډېرو خرابو حالاتو ښکار کېدو سره مخامخ کیږو ځکه چې کوم فرض چې مونږ د نن د اخراجاتو پوره کولو د پاره اخلو هغه به مونږ په مستقبل کښې سره د سوده واپس کوو-

که مونږ د ټیکس امد ن د نجکارئ نه حاصل شوې پېسې او د بېن الاقوامی قرضو رقم جمع کړو نو بیا په هم هغه 4.2 فیصده مالیاتی خساره پوره نه کړې شو کومه چې د بجټ په دستاویزاتو کښې ښودلی شوی ده- زمونږ په امدن او خرچ موجود فرق به د نورو نوټنو په چاپ کولو باندې پوره کولې شی چې د کومې په نتیجه کښې به افراط زر نور هم سېوا شی-مونږ په دې نه پوهېږو چې افراط زر کښې اضافه به د غریبو خلکو د مصیبتونو سېوا کولو نه علاوه نور څه هم کېدې شی؟

ما څو ځلې دا خبره په ګوته کړې چې د ملک په امدن کښې د زرعی امدن حصه ورځ په ورځ لګیا ده کمیږی-د 4.2 فیصده حدف او د تېر کال6.7 فیصده شرح په مقابل کښې په 06-2005 کښې د زراعتو د ودې شرح صرف 2.5 فیصده وه=دغه حالت به د ددې نه هم خراب ؤ که د لائیو سټاک شعبې کارکردګی ښه نه وې بیا هم دا خبره د افسوس وه چې په موجوده بجټ کښې د زرعتو شعبه نظرانداز کړی شوه= د یو څو جزوی اقداماتو نه علاوه مونږ ته په بجټ کښې د زراعتو په حقله هیڅ نه ښکاری د کومو په وجه چې د دغه اهمې شعبې د انتهائي خراب حالت د ټیک کېدلو هیڅ رقم په بجټ کښې نه دے ایښودلی شوے-

ولې د دې نه باوجود هم د خزانې وزیر وائی چې دغه بجټ زراعت دوسته بجټ دے ځکه چې په دې کښې د ټرېکټرو په درامد باندې ډیوټی معاف کړی شوی ده=ددې نه مخکښې چې مونږ په دغه کامیابئ ځان له شاباش اووائو دا خبره ضروری ده چې مونږ په زرعی محنت کشو د دغه اقدام د اثر جاج واخلو چې د مخکښې د نیم روزګار خاوند دې او چې نورو شعبو د بد حالئ د وجې بلې شعبې ته هم نه شی تلې=زه په زراعتو کښې د مشین د استعمال خلاف نه ئمه ولې د کاشتکارانو او د پټی د مزدورانو د متباد ل روزګار انتظام کولو نه بغېر د مشینانو استعمال ته فروغ ورکول تباه کن کېدې شی ځکه چې دا خلک به د مشینانو د استعمال په وجه بې روزګاره او تباه شی-

په بجټ کښې ترقیاتي پروګرامونو او دفاعی اخراجاتو دواړو د پاره کښېودلې شوې پیسو کښې اضافه کړې شوې ده ولې اهمه خبره دا ده چې کومې پېسې چې د بجټ د پاره منظورې کړې شوې وې هغه خو ټولې په ټولې استعمال کړی شوې ولې د ترقیاتی کارونو د پاره منظورې کړې شوې رقم کښې صرف نیم رقم اولګولې شو-

# بجټ

د تېر کال بجټ ته "پراهو بجټ "وئیلې شوې ۇ ځکه چې په هغې کښې د قیمتي کاهو په قیمت کښې کمې واوستلې شوې ۇ=د سخ کاله بجټ 'یوئنګ" بجټ دې ځکه چې په دې کښې په هوائي جهازونو لګېدلی جنرل سیلز ټیکس ختم کړې شوي دې« کوم خلک چې دا وائی چې په پاکستان کښې غربت کم شوې دې ځکه چې خلک په قیمتي ګاهو کښې سفر کوی هغه خلک به اوس دومره مالداره شو چې هغوئ ته د ذاتی جهازونو ضرورت وی او په دغه وجه په هوائی جهازونو سیلز ټیکس ختم کړې شو-

د تېر کال بجټ ته "پراهو بجټ "وئیلې شوې ۇ ځکه چې په هغې کښې د قیمتي کاهو په قیمت کښې کمې واوستلې شوې ۇ=د سخ کاله بجټ 'یوئنګ" بجټ دې ځکه چې په دې کښې په هوائي جهازونو لګېدلی جنرل سیلز ټیکس ختم کړې شوي دې« کوم خلک چې دا وائی چې په پاکستان کښې غربت کم شوې دې ځکه چې خلک په قیمتي ګاهو کښې سفر کوی هغه خلک به اوس دومره مالداره شو چې هغوئ ته د ذاتی جهازونو ضرورت وی او په دغه وجه په هوائی جهازونو سیلز ټیکس ختم کړې شو-

بجټ په خوبیو او خامیو ډېر څه لیکلی شوی دی او لیکلې کېدې شی ولې د ټولې نه اهمه خبره اوس دا ده چې د بجټ د تیارئ په طریقه کار کښې دې تبدیلی را وستلې شی-هر کال ټولو وزراتونو او ددئ سره تړلې محکمو ته وئیلے شی چې دوئ دې د خپلو ضروریاتو په باب له اووائی چې په بجټ کښې شامل شی- سرکاری افسران د تېر کال بجټ په پېسو نظر واچوی او د یو مفروضې د شرحی مطابق د نوی کال په بجټ کښې د خپل ادارې د ضروریاتو مطابق اضافه وکړی چې اضافی اخراجات پوره کړې شی نه خو د بجټ پسته په بجټ باندې پارلیمنټ کښې بحث کیږي نه د سرکار سره تړلی غړی به پارلیمنټ کښې د بجټ دفاع کوی او نه د اپوزېشن غړی د بجټ ښه اړخونو باندې نظراچوی-دواړه اړخه ډېر غېر سنجیدګئ سره حصه اخلی اؤهر یو د قامی مفاد او اولسی ښېګړې خبرې کوی-

د افسوس خبره دا ده چې څوک هم دا کوشش نه کوی چې د عام سړی نه د بجټ په بابله رائې واخلی-عام سړی چې د ټولو نه اهم دے د حکومت د پاره غېر اهم دی او د مړې په شان په مالیاتی او معاشی تجربه ګاه کښې استعمالیږی-زه دې خبرې ته حېران ئیم چې مونږ نه د بجټ ضرورت څه دې چې په ریاست کښې صلا کار په عارضی اقداماتو باندې چلیږی-خلک 70 فېصده ټیکس داسې ورکوی چې هغوئ ته دا پته هم نه لګی چې ګنی هغې تیکس هم ورکوی-زما خیال دې که حکومت بجټ هډو د سره پېش هم نه کړی نو خلک به هېڅ او نه وائی-دغه رنګ به مونږ د حغه خلکو پېسې بچ کړې شو څوک چې کم از کم ټیکس ورکوی څکه چې هم ددوئ پېسې په بجټ اجلاسونو او بحثونو لګولې شی که زمونږ پارلیمنټ د مملکت د سربراه د کالیز خطاب نه بغېر چلېدے شی نو زمونږ ملک هر کال د بجټ جوړولو او پېش کولو رسم هم ترک کولې شی-

ډاکټر عابد قیوم سلیهری ریسرچ فېلو ایس ډی پی آئی)